
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۸/۰۶

# شګې او يادونه



مرم له تندې، مورې وکړه دعاګانې
خدايزده بچ شمه له دې خونړۍ دښتې
دلته بل زلمی هم غواړي بخښښونه
پر وجود يې دې تغمې د مرګ د لښتې

مورې شګې مې په سترګو کې را لويږي
مورې! ستا د مخ تصويريې راته مات کړ
ته مې هرڅاڅکي د اوښکو کې ولاړه
د هيندارو دا بهير يې راته مات کړ

هغه باد چې دې بيابان کې رااللوتی
رانه وړي مې د خواره بچي يادونه
مورې ستا دومره دعاوې راپسې وې
لکه ځومره دې دې دښته کې ريګونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مورې هرې خواته دښته ده او دښته
رااللوتي پرې خوني خوني بادونه
په يوه ځاځکي اوبو پسې ړندېږم
را ياديږي ستا د نکل بيابانونه

ته مي نيمه شپه له خوبه ويښه نهکړې
پېټ مي ومينځل په اوښکو ستا لاسونه
مورې زه ومه ډوډۍ پسې راوتی
را په مخه شول دا غرونه او ډاګونه

مورې يو زه نهيم نور هم راسره دي
څوک پلرونه، څوک کوژدن او څوک جره دي
څو يي مړه شول، څو يي اوس په زنکدن دي
د محشر ټکنده لمر ته ټول ايره دي

مورې تا به وېل قيامت کې لمر کوزيږي
دوه نيزې، او ورته ايشي به سرونه
نن په موږه شل نيزې راپرېوتلی
پر تبۍ زمکه پخيږي اندامونه

يو زلمی مي څنګ ته پروت دی ساه وتلی
پر ښايسته مخ يې باد شګې ورشيندلي
په روستۍ شيبه يې هم د چا نوم ياد کړ
ښنو سترګو يې د کور لارې ايستلي

مورې ورکه مزدوري ده له وطنه
څه ښايسته ښايسته مخونه يې کباب کړل
ستا واړه لمسي ته ما ليدلی خوب و
مرګی ورک شه !زما خوبونه يې خراب کړل

مورې ما وبښه! نور غرېدی نه شم
مورې ژبه مي تالو پورې نښتې
په بچي او په «هغې» باندې به پام کړې
نوره دمه مي له ټول وجوده وتې

مورې ډېره مي يادېږي خدای حاضر دی
چې دې يو ځل وای نيولی په خوا پورې
له دې دښتې د للو للو غږ اورم
ساه مي وځي... مورې، مورې، مورې، مورې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ